الدرس السادس عشر
معاملته مع لأهله ﷺ

شپاړلسم درس
د نبي ﷺ برتاؤ د خپل كوروالو سره

د خپلو كور والو سره به نبي ﷺ په ډيره تواضع سره پيش راتللو ، د كوروالو د ضرورتونو به ئې ډير خيال ساتلو ، او د زنانه د ذات به ئي قدر كولو كه هغه به د مور په صورت كښې وه او كه د ښځې يا د خور په صورت كښې ، يو سړي د نبي ﷺ نه تپوس وكړو چې زما د خائسته سلوک د ټولو نه ډير څوک حقدار دی ، نبي ﷺ ورته وفرمائيل ، چې ستا مور ، بيا ستا مور ، بيا ستا مور ، او بيا ستا پلار ، او نبي ﷺ فرمائيلي دي ،څوک چې مور او پلار دواړه يا يو په بوډاتوب كښې ووموي او د هغوی د خدمت ونه كړي ، اُور ته به ځي او الله تعالی به ئې په اُور كښې لرې ګزار كړي ، د نبي ﷺ د خائسته اخلاقو حال دا وه كه (أم المومنين) كښې به يو بې بې په لوښې كښې أوبه وڅكلې نبي ﷺ به په هغه ځائې خوله كيښودله او أوبه څكلې په کم ځائې چې هغې خوله لګولې وه ، نبي ﷺ به فرمائيل: چې تاسو كښې بهتره هغه څوک دی ، چې د خپل كورواله دپاره بهتره وی او زه د خپل كورواله دپاره د ټولو نه بهتره يم .

## د رحمتونه باران

د رحمت باره كښې د نبي ﷺ فرمان دی ، څوک چې رحم كوی ، رحمن ذات په هغه باندی رحم وكړی ، زمونږه نبي ﷺ ته ده ددی اخلاقو نه پوره حصه وركړې شوی ده ، نبي ﷺ به د ټولو خلقو سره برتاؤ د شفقت او رحم نه ډک وو، د نبي ﷺ د شفقت او رحمت به هغه وخت په نظر راتللو چې كله به د ماشوم ژړه واوريدله نو مونځ به ئې ورته مختصر كړو ، ابو قتاده ؓ فرمائي ، رسول الله ﷺ فرمائيلي دی : زه مونځ ته اُديږم دا مې اراده وی چې اُږد مونځ به وكړم ، ليكن د ماشوم د ژړا آواز واورم نو مونځ رالنډ كړم ، دا بده ګنړم چې د ماشوم مور په فتنه كښې واقع شي ، (الصحيح البخاری)

نبي ﷺ د خپل أمت دپاره ډير رحيم او مشفق وه ، د ټولو نه زيات حرص ئې دا وه چې ټول خلق د الله تعالی په دين كښې داخل شي ، يو يهودی ماشوم ناجوړه وو ، چې د نبي ﷺ خدمت به ئې كولو ، نبي ﷺ د هغه بيمار پرسئ دپاره تشريف راوړو، نبي ﷺ ورته د اسلام دعوت وكړو چې اسلام كښې داخل شه هغه خپل پلار ته وكتل ، چې دهغه د سر په خواء كښې ولاړ وو ، پلار ورته وئيلي: د ابوالقاسم ﷺ خبره ومنه ، ماشوم اسلام قبول كړو، او بيا لګ وخت پس وفات شو ، نبي ﷺ دا وئيلي او دهغه ځائې نه راوتلو ، الله تعالی دپاره شكر دی چې دا ماشوم ئې د أور نه خلاص كړو،